مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر محب زغم

۲۰۲۳/۰۲/۰۲

جادويي خبرې

فريد او سيما د ويالي په غاړه ناست وو. د ويالي له څنډې به يې خټې راخيستې او کوټنۍ يې جوړولې. د انګړ دېوالونه يې جوړ کړل. د انګړ په بر سر کې يې يو د دالان او دوې کوټې سازې کړې. لا يې کار نه و تمام شوی. فريد ولاړ چې د کوټو د بام له پاره خس، خشاک او خلي راټول کړي. سيما خپل کوچني لاسونه په اوبو خيشتول او د کوټو دېوالونه يې ښويول.

ناڅاپه د فوټبال توپ له پاسه راغی. اول د سيما پر اوږه ولګېد او بيا پر کور. کورګی يې خچ پچ شو. سيما وار خطا پاڅېده او چيغه يې کړه: وی! زمور کورګی.

فريد چې د ولې وني لاندې ناست و او پاڼې يې تولولوې، راولاړ شو. لومړی يې د سيما خوا ته وکتل او بيا يې کورګي ته وکتل. په مندې يې ځان ورورساوه.

له هغې خوا نجيب د فوټبال له ميدان څخه په مندې راغی چې خپل توپ واخلي. فريد نجيب له ګرېوانه ونيو او چيغه يې کړه: ولې دې زمور کورګی راخراب کړ؟

د دواړه مخونه سره اوښتي وو. سيما د فريد مټ ونيو، راکش يې کړ او ويې ويل: وروکه! جنګ مه کوه. خير دی، کورګی به مو له سره جوړ کړو.

فريد د نجيب ګرېوان خوشی کړ خو توپ ته يې زوروره لغته ورکړه. توپ په هوا شو او ها خوا ته په ويالې کې ولوېد.

اوبو توپ له ځانه سره يووړ. نجيب په مندې مندې ځان پله ته ورساوه. پر پله ځملاسته او توپ چې ورورسېد، په دواړو لاسو يې ونيو.

نجيب خپه و. هم په دې چې د فريد دوی کورګی خراب شوی و او هم په دې چې فريد ورسره جنګ وکړ.

نجيب چې کور ته ولاړ، مور ته يې کيسه وکړه.

مور يې وويل: زويه! زه به جادويي خبرې درزده کړم چې بيا دې ملګري درسره جنګ ونه کړي.

نجيب له خوشحالۍ وموسېد او ويې ويل: په رښتيا؟

مور يې په خندا سره وويل: خود. غوږ ونيسه! هر کله چې همداسې کومه خطا درنه وشوه، ملګرو ته دې ووايه چې «بخښنه غواړم» ورته ووايه چې «ما نه غوښتل چې تا خپه کړم». بيا وګوره چې دغه خبرې څنګه جادو کوي.

بله ورځ بيا هم نجيب او نورو هلکانو فوټبال کاوه. فريد له څو نورو همزولو سره د ميدان په بل سر کې کړېکټ کاوه. نجيب غوښتل چې توپ د خپل ګول له مخې لرې کړي نو په زوره يې توپ شوټ کړ. توپ په هوا شو او سيده د فريد په سر ولګېد.

نجيب په مندې مندې ورغی، فريد ته يې ځان ورساوه. مخکې له دې چې فريد دی له ګرېوانه ونيسي، ده په نرمه غاړه وويل: اوه! فريد جانه! خوږ شوی؟ بخښنه غواړم. ما نه غوښتل چې توپ دې ستا پر سر ولګېږي. ما وبخښه.

د نجيب خبرو په رښتيا هم د جادو غوندې اثر وکړ. فريد نجيب ته لاس ورکړ او ويې ويل: پروا نه کوي. خوږ شوی نه يم.

دواړو يو بل په غېږ کې ونيو او لوبه يې له سره پيل کړه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ